نجیب منلی ۲۰۱۸/۱۲/۲۲

# د عبدالغفور لیوال «پینځه منظومې»

د پینځو کتابونو یو ځای کول د شرقي فرهنګ یوه زړه عنعنه ده. «پنج کتاب» زموږ د سنتي نصاب په بنسټیزو درسي کتابونو کې یادیږي، «پانچهه تانترا» د هندي ادب شهکار دی (چې موږ یې د کلیله او دمنه په نامه پیژنو)، نظامي، امیر خسرو دهلوي او ګڼو نورو هم خپل اثار په پینځګوني ترکیب تنظیم کړي او نوم یې ورته «خمسه» ایښي (خمسهٔ نظامی، خمسهٔ امیر خسرو، خمسهٔ هاتفي جامی...) او په غربي کتابپوهنه کې هم د پنتالوجي (Pentalogy) بڼه یوه پیژندل شوې شېوه ده.




د معاصرې پښتو پیاوړي او نامتو شاعر استاد عبدالغفور لیوال هم په دې وروستیو کې خپلې پینځه منظومې په یو جلد کې را ټولې کړې دي، د بهیر مطبعې په تخنیکي همکارۍ یې په ښکلي قطع او صحافت (وزیري قطع) چاپ کړې دي. په دې مجموعه کې د ښاغلي لیوال پینځه سترې منظومې (هوسی، ارشاک او اوشاس، لام او ایلینو، کک او زرینه، سلطان) راټولې شوې دي. نوم یې هم ورته په ډېر ساده ډول «پینځه منظومې» ایښی دی. ما ورته په شوخی وویل کاش «خمسهٔ غفوري» دې بللې وای.

ولسمشر محمد اشرف غني پر کتاب یو یادښت ښکلی چې په کې یې د ښاغلي لیوال دا منظومې «د پښتو ادب په تاریخ کې د عطف یو ټکی» بللې چې هره یوه یې «له دې وطن سره د مینې یوه حماسه» ده.

د لیوال پینځه منظومې هم، د لیکوال په ژوند، د هېواد د وروستي تاریخ له پینځو حساسو مرحلو سره تړلې دي، هم د افغانستان د اوږده تاریخ له پینځو مهمو دورو سره تړلې دي او هم د افغانستان د جغرافیې له پینځو سیمو سره تړلې دي:

- هوسی د ۱۳۷۰ لسیزې د بدبختیو په چاپېریال کې پنځول شوی د جنګونو روایت دی،



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

- ارشاک او اوشاس د کوشاني ستروا‌کمنۍ پر مهال د نيلاب پر څنډو د زړونو او د خاورې پيوند بيانوي،
- لام او ايلينو د ښکلي نورستان يوه دراماتيکه شببه ده،
- کک او زرينه د هلمند پر لمن د هلمند د اوبو د ښکلي زنځير د ساتلو يوه هڅه ده چې د پنځولو زمانه يې د هېواد پر اوبو د پرديو له دعوو سره هممهاله راغلي او
- سلطان د لوګر پر عرفان پرورې خاورې د دوزخ د اور د وژلو يوه هيله رابيانوي او د ليکلو وخت يې هم د هېواد د تاريخ داسې يوه شببه ده چې د جنګ د لمبو د سړېدو هيله په کې سترګکونه وهي.

د لېوال روانه او خوږه ژبه هم د يادولو ده. لېوال له پښتو او له افغانيت سره مينه لري خو دا مينه، لکه دځينو نورو، په شعارډوله اعلاميو کې نه وايي، د ژبې به پستو څپو، خوږو تعبيرونو او د پېښو په طبيعي بهير کې يې ځلوي. دا د کابل او لوګر سيندونو تر منځه، لوی شوی صاحبزاده يوازې د ښکلو د ارمانونو د پوره کولو په پار کوزړی نه ګرزوي، د ژوند د ښکلا له پاره او له داره د پړيو د پرانستلو په خاطر د موزونو کلماتو او شرنګېدلو جملو جادويي مصله هم ورسره ده چې زمان او مکان په کې رانغاړي.

زه ښاغلي لېوال ته نه، افغان ولس ته د دې پينځو منظومو د يوځای خپرېدو مبارکي وايم.

په افغاني ادب کې د لا نوو او برياليو تجربو په هيله.

يادونه:

که چيری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی ليکوال نوری ليکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!